# "ما پسې راځه"

## د ناصحانو کتاب

## د اهم خبرواترو په حقله رهنمايئ دپاره

ايډورډ ايوانس

اوله حصه: اول سبق نه تر لسم سبق پوری

حق چاپ © جنوری ۲۰۱۲

# فهرست


| سبق نمبر | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | د ناصح دپاره رهنمائ<br>د طالب علم دپاره رهنمائی | ۲<br>۹ |
| اول سبق | د مسيح مريد جوړيدل | ۱۰ |
| دويم سبق | په مسيح کښې نوے ژوندون | ۱۹ |
| دريم سبق | د خدائ پلار په ذريعه غوره کړے شوے | ۲۸ |
| څلورم سبق | د مسيح فرمانبرداری، د پاک روح نه معمور کيدل | ۳۵ |
| پينځم سبق | مونځ، دُعا يا د خدائ پاک سره خبری؟ | ۴۴ |
| شپږم سبق | زمونږ دپاره د خدائ پاک کلام | ۵۳ |
| اووم سبق | د عيسیٰ مسيح د جماعت غړی | ۶۲ |
| اتم سبق | د دؤو معاشرو غړی | ۷۱ |
| نهم سبق | د عذابيدلو وجی | ۷۹ |
| لسم سبق | د مصيبت جواب | ۸۷ |
| دويمه حصه | | |
| يولسم سبق | ښځی او خاوندان | ۹۵ |
| دولسم سبق | خپلی لانجی حل کول | ۱۰۵ |
| ديارلسم سبق | زمونږ شهادت | ۱۱۲ |
| څوارلسم سبق | بپتسمه | ۱۲۲ |
| پينځلسم سبق | د مسيح شريعت: نيغه لار | ۱۳۴ |
| شپاړسم سبق | د مسيح شريعت: د مينی طريقه | ۱۴۳ |
| اوولسم سبق | د مسيح شريعت: روژه او زکواة | ۱۵۲ |

| | | |
|---|---|---|
| اتلسم سبق | قسمت او جادو | ۱۶۲ |
| نولسم سبق | د یو بل خدمت کول | ۱۷۲ |
| شلم سبق | یو مختلف قِسم حج | ۱۸۱ |
| اوله ضمیمه | خدائ سره زمَا وقف کړے شوے وخت | ۱۹۱ |
| دویمه ضمیمه | خدائ ته ښکه رسیږی | ۱۹۳ |
| | د دې کورس مقصد | ۱۹۶ |

# د ناصح دپاره رهنمائ

(مهربانی وکړئ اول دا ولولئ)

## ا- د دې کورس مقصد

زمونږ مالک عیسیٰ مسیح مونږ ته حکم کړے دے چې "مریدان جوړ کړئ" (متی ۲۸ : ۱۹) د عیسیٰ مسیح یو مرید دې صرف د هغۀ نوم نۀ لری. بلکه هغه دې د ژوند په هره حصه کښې د مسیح رویه او کردار ښکاره کړی: په کورنئ کښې، دوستانو سره، په کار کښې او هر چرته. د ژوند په هر حال کښې دې د مسیح پیروکار هغه څۀ کوی څۀ چې عیسیٰ مسیح پخپله کول. شاګر دې لکه د اُستاذ په شان شی!

دا بدلون سمدستی نۀ کیږی. ډیره موده زمونږ دننه روح القدس زمونږ مدد کوی چې په بدو رویو او عادتونو باندې غالب شُو. هغه ورځ په ورځ مونږ لکه د مسیح په شان جوړوی.

یاد ساتئ چې د یوه شمع بله شمع بلوی. چا ستا مدد کړے دے چې د مسیح په شاګردئ کښې ترقی وکړی. اوس ستا نمبر دے چې د بل چا مدد وکړئ چې هغه ترقی وکړی. دا کورس ستا د مدد دپاره یو ذریعه ده چې "مریدان جوړ کړی"، څنګه چې زمونږ مالک عیسیٰ مسیح حکم کړے دے.

نو، د دې کورس مقصد دا دے چې هر یو زده کونکے په مسیح کښې مضبوط لوئ شی:

- د هغۀ مرضی په خپل ژوند کښې وپیژنو،
- شکر ګزارئ سره په هغۀ بهروسه لرو،
- فیصله وکړو چې په هر څۀ کښې هغه اول وی،
- د هغۀ د روح په مدد سره هغۀ سره نژدې پاتی شُو، او
- د مسیح د پیروکارو په معاشره کښې خپل کردار ادا کړو.

## ب- د ناصح په حثیت ستاسو کردار



تۀ اُستاذ نۀ یې! کتاب اُستاذ دے. دا تاسو له د ضرورت ټول معلومات درکوی، او په هر یو سبق کښې د اُستاذ تصویر تا ته ښائې چې بنیادی خبری کومې دی. داکتاب ډیر په ساده طریقی سره تعلیم ورکوی. دا آسان سوالونه کوی او د هر سبق په آخر کښې جوابونه هم ورکوی.

دا ستاسو دپاره هدف آسانوی. تاسو له پخپله د سبقونو د لیکلو ضرورت نشته. بلکه تۀ دجماعت دوست او ناصح یې. ستا هدف د هغوی مدد کول دی چې هغوی دا پخپله زده کړی او عمل پری وکړی.

یاد ساته چې هغوی ماشومان نۀ دی بلکه بالغان دی. د هغوی په ژوند کښې ډیره تجربه شوی ده او هغوی دا جماعت ته ورکولے شی. د هغوی نه تجربی او رائے اخله. د هغوی مدد کوه چې د خپل ځان په حقله سوچ کوی. دا خبره یقینی کوه چې هغوی د هری هفتی "عملی هدف" کوی. د هغوی دپاره یوه ښۀ نمونه جوړ شه. د هغوی خیال ساته. د هغوی دپاره دُعا کوه. د هغوی دوست شه. دهغوی په غم ښادئ کښې شریک اوسه.

د جماعت طالبعلمان به تا ته ډېر په غور سره ګوري. ستا مثال ستا د علم نه زيات مهم دے. څنګه چې يو نوی ايماندار وئيل، "کله چې ما د بائبل مقدس مطالعه غوښته، ما د کتاب مطالعه نۀ غوښته، ما د هغه کس مطالعه کوله چا چې زما تربيت کولو."

## ت- دا کورس څنګه استعماليږی

- ❖ دا کورس يو ايماندار سره يا د ايماندارانو يو جماعت سره استعمالولے شی.
- ❖ کۀ څوک د مسيحی ايمان په حقله معلومات غواړی نو هغوی دې بيا بل کتاب وګوری. دا کورس د هغوی دپاره دے څوک چې د مسيح د پيروکارو په حثيت لوئيدل غواړی.
- ❖ طالبعلمانو سره د دې کورس د "طالبعلمانو کتاب" دے. او تاسو سره د "ناصحانو کتاب" دے. ستاسو د کتاب صفحی هم هغه شان دی څنګه چې د هغوی دی او د صفحی نمبری هم يوشان دی. خو د هغوی په کتابونوکښې کامنټونه نشته او ستاسو په کتاب کښې شته چې د هر يو سبق په خبرو اترو کښې ستاسو مرسته او رهنمائي وکړی.
- ❖ په دې کورس کښې ټول شل سبقونه دی او په دؤو کتابونو کښې چاپ شوی دی. يو څو طريقی شته چې تۀ پکښې دا کورس استعمالولے شی:
  - ښۀ طريقه دا ده چې د اول سبق نه شروع کړی او تر شلم سبقه پوری يې ووايې. هره هفته به طالبعلمان يوسبق پخپله په کور کښې وکړی، بيا به تا سره د خبرو اترو دپاره ملاؤ شی، او بيا عملی هدف وکړئ،
  - بله طريقه دا ده چې طالبعلمان دې دا په کور کښې نۀ کوی خو تاسو سره دې هفته کښې ملاويږی او سبق يوځائ کوئ،
  - دريمه طريقه دا ده چې د شلو سبقونو نه څۀ خوښ کړئ کوم چې د طالبعلمانو د حاص حالاتو په مطابق وی، مثلاً څوک چې د بپتسمی دپاره تياری کوی هغه اول او څوارلسم سبق کولے شی.
- ❖ مونږ په کلکه مشوره درکؤو چې تاسو د "ناصحانو تربيت" واخلئ، خاص کر کۀ تاسو مخکښې کله داسې قِسم کورس نۀ وی استعمال کړے. د دې تربيت په حقله معلومات د هغه کس نه واخلئ چا چې تاسو له دا کتاب درکړے دے.

## ث- د جماعت د خبرو اترو رهنمائي څنګه کيږی

دا خبری يادی ساتئ:

- پخپله ډيری خبری مۀ کوئ! تپوسونه کوئ. ښۀ تپوسونه پکار دے چې:
  - ○ پوهيدلو دپاره آسان وی
  - ○ د خبرو اترو سلسله شروع کړی (داسې نه چې خبری ختمی کړی او يا يې په جواب کښې صرف "آؤ" يا "نه" وی)
  - ○ د سبق په مطابق وی

- هر یو طالبعلم له موقع ورکړه چې په خبرو اترو کښې حصه واخلی. کوم چې زیاتی خبری کوی هغوی ته ووایه چې زیاتی خبری نهٔ کوی. چې کوم شرمیږی د هغوی نه آسان تپوسونه وکړئ (او نور کسان مهٔ پریږدئ چې د دوئ په ځائ جواب درکړی!)
- کهٔ طالبعلمان په یو تپوس پوهه نهٔ شی، نو پخپله جواب مهٔ ورکوئ، بلکه هم دغه تپوس په بلی طریقی سره بیا وکړئ.
- مهٔ پریږده چې د بنیادی خبری نه خبره بل خوا لاړه شی.
- کهٔ یو طالبعلم جواب درکړی او هغه غلط وی یا یې د موضوع سره څهٔ تعلق نهٔ وی، نو د هغهٔ بی عزتی په دې وېنا سره مهٔ کوه چې تهٔ په غلطه یې. بلکه، تپوس وکړه چې د نورو طالبعلمانو څهٔ خیال دے. اکثر به دوئ دا پخپله ټیک کوی. او یا تهٔ ورته دا هم وئیلے شې، "ستاسو د جواب ډیره مننه، خو تاسو د دې په بل اړخ سوچ کړے دے؟" او بیا ورله ښهٔ جواب ورکړه.
- د هر یو سبق په عملی طور کولو حصی باندې غور کوه، چې هر یو طالبعلم ځی چې په خپل ژوند کښې څهٔ باندې عمل هم کوی.
- پریږده چې طالبعلمان ستا نه تپوسونه وکړی. کهٔ تا له جواب نهٔ درځی، نو ورته ووایه چې د راتلونکی میټنګ نه مخکښې به زهٔ پته ولږوم. هغوی به دې سره ستا نور هم زیات عزت کوی په ځائ د دې چې تهٔ هسی په هغوې ظاهر کړی چې ګنی تا له جواب درځی. دا خبره یقینی کړه چې خپله وعده پوره کړی او راتلونکی سبق ته ځان سره جواب یوسی.

## ج- هره هفته څهٔ کوی

**د هر میټنګ نه مخکښې**

۱. د میټنګ نه کم ازکم ده ورځی مخکښې، سبق پخپله تیار کړه، داسې لکه چې تهٔ پخپله طالبعلم وی. ټولو سوالونو ته خپل جوابونه ولیکه. په لنډه ځان مهٔ خلاصوه.

۲. د سبق اهداف ولوله. د ناصحانو په کتاب کښې د هر یو سبق په شروع کښې زمونږ ورکړے شوی اهداف په یوه خانه کښې لیکلے شوی دی. مثال په طور، دلته اړخ ته په خانه کښې د نهم سبق اهداف دی:

تهٔ به پوهه شی چې د دې هفتی دپاره د طالبعلمانو د کولو دپار په دې ټولو اهدافو کښې څهٔ نه څهٔ شته:

- "دا خبره یقنی کړی" د ټولو نه اهم هدف دے د دې هفتی دپاره،
- "پوهه شی" داسې څیز دے چې هغوی یې په خپل ذهن کښې کینوی،
- "حکمت سره عمل کول" داسې څیز دے چې هغوی پری پخپله عمل شروع کړی،
- "زبانی یادول" یو ښهٔ طریقه ده چې د خدائ کلام د هغوی په زړونو او ژوند کښې راشی.

۳. د دې سبق رهنمائ ولولئ. د رهنمايئ دا خبرې د صفحو اړخ ته په خانو کښې ليکلے شوې وی، لکه داسې:

۴. مونږ په تفصيل سره ستاسو د رهنمايئ دپاره ليکل کړی دی چې قدم په قدم ستاسو مرسته وکړی. د **خبرو اترو** دپاره سوالونه خوښ کړه کوم چې ستاسو د طالبعلمانو دپاره مناسب وی. وروستو چې بيا ستاسو نوره تجربه هم وشی، نو بيا تاسو د سبق د اهدافو او د خپلو طالبعلمانو د ضرورت په مطابق د خبرو اترو دپاره پخپله سوالونه ليکلے شئ.

**۵**. د جماعت د هر يو طالبعلم دپاره دُعا وکړه او د خدائ نه دُعا وغواړه چې ستا مدد وکړی چې يو ښۀ ناصح جوړ شی.

د ميټنگ په دوران کښې

۱. د راتلو په وخت کښې خلقو ته پخير راغلے ووايه. او کۀ دې خوښه وی نو چائ ورله ورکړه.

۲. د ميټنگ (عبادت) په شروع کښې، **د دوباره کتلو** حصی نه سوالونه وکړه، چې وګوری چې طالبعلمانو د کور کار صحيح کړے دے کۀ نه. سبق ته دوباره کتل د هر يو سبق په آخر کښې راځی. (د طالبعلمانو په کتاب کښې د دې جوابونه نشته، ځکه چې پکار دے چې هغوی ته د دې جوابونو د مخکښې نه پته وی. خو ستاسو يعنی د ناصحانو په کتابونو کښې جوابونه ليکلے شوی دی)

۳. بيا، طالبعلمانو نه د **عملی هدف** په حقله تپوس وکړئ چې هغوی د تيری هفتی د سبق نه پس کړے دے. کۀ تاسو هره هفته د هغوی نه تپوس کوئ نو دا هغوی ته ښائي چې دا ځومره ضروری دے. (خو کۀ تپوس تری نۀ کوئ، نو ډير بيا د دې پرواه نۀ کوی.)

۴. بيا د رهنمايئ ليکلو پسی ځئ. دا تاسو ته ښائي چې د خبرو اترو رهنمائي به څنګه په آسانه کوئ.

- "تصوير ته **وګورئ**" مطلب دا دے چې ټول جماعت دې په يوځائ په کتاب کښې تصوير ته وګوری،
- "هائي لائټ شوی حصه **ولولئ**" مطلب دا دے چې يو طالبعلم دې په اوچت آواز په کتاب کښې داسې هائي لائټ شوی ټکی ولولی.
- "**تپوس**" ستا دپاره يو سوال دے چې د طالبعلمانو نه يې وکړی،
- "**ووايه**" ستا دپاره يو تعليم دے چې جماعت له يې ورکړی،
- "**يوځائ دُعا وکړئ**" دا د جماعت دپاره يو عمل دے چې د عبادت په شروع او آخر کښې وکړی، کۀ هغه په خپلو الفاظو کښې وی او کۀ هغه دُعا وی چې په کتاب کښې ليکلے شوی وی.

۵. د خبرو اترو د سوالونو متعلق،

- په دې کښې څۀ د مخکښې نه د طالبعلمانو په کتاب کښې شته او د سبق په جوابونو کښې د خبرو اترو دپاره واضحه کړے شوی دی. پکار دے چې طالبعلمان د خپلې رائے یا تجربې نه د دې جوابونه ورکړی. هغوی له دا سوالونه خالی نۀ دی پرېښودل پکار. وګوره چې هغوی په خپلو کتابونو کښې جوابونه لیکلی دی.
- په هر سبق کښې د خبرو اترو دا سوالونه ډېر مهم دی؛ دا د طالبعلمانو د ژوند په بدلون کښې ډېر مدد کوی، هغوی له صرف معلومات نۀ ورکوی. د خبرو اترو په وخت کښې د دې سوالونو ډېر خیال ساته اګر کۀ د باقی ټولو سوالونو دپاره تاسو سره وخت هم پاتې نۀ شی.
- د دې نه علاوه د خبرو اترو سوالونه د ناصحانو د کتاب په اړخ کښې شته. هغه سوالونه استعمالوئ کوم چې ستاسو د جماعت د طالبعلمانو دپاره مناسب وی.

۶. د خبرواترو هر سوال سره [په داسې] بریکټو کښې مونږ څۀ جوابونه هم لیکلی دی. خو د طالبعلمانو مرسته وکړئ چې هغوی په خپلو الفاظو کښې پخپله جوابونه ورکړی. کله کله "صحیح" یا "غلط" جواب نۀ وی، خاص کر چې کله سوال د طالبعلمانو د ذاتی تجربې یا رائے په حقله وی.

۷. د خبرواترو (عبادت) په آخر کښې، **تپوس وکړه** "نن تا د ټولو نه مهم څیز څۀ زده کړے دے؟"

۸. په آخر کښې، **دُعا وغواړئ** چې دا سبق په عملی طور وکړے شئ. او هم د یو بل دپاره دُعا وکړئ. طالبعلمانو ته وښایئ چې هغوی په خپلو ساده الفاظو کښې څنګه دُعا کولے شی.

د میټنګ نه پس

۱. کۀ ستاسو په جماعت کښې د حاضرئ یا د ټیسټونو دپاره نمبری وی، نو هغه وکړئ.

۲. داسې وګڼه کۀ تۀ په خبرو اترو کښې ښۀ رهنمایي کوی نو ځان نه دا څلور سوالونه وکړه:

- "آیا ما ډېری خبری وکړې؟"
- "آیا ټولو طالبعلمانو په خبرو اترو کښې حصه واخسته سره د هغه خاموشه کسانو او څوک چې شرمیږی؟"
- "آیا زما سوالونه آسان وو او د خبرو اترو دپاره ښۀ وو؟"
- "آیا سبق خپل اهداف پوره کړل او زمونږ په ژوند کښې یې څۀ کردار ادا کړو؟"

۳. کۀ دې څلورو سوالونو تا ته ستا کمزوریانی ښودلی وی کومی چې د خبرواترو په رهنمایئ کښې ستا نه وشوی، نو په راروانه هفته کښې دا د ځان نه لری کړه.

## ح- هغوی دړپاره څوک چې لوستلے نۀ شی

کۀ په جماعت کښې څۀ طالبعلمان داسې وی چې هغوی لیکل نۀ شی کولے، نو هغوی دپاره دا اُصول خپل کړه:

- د داسې هر يو کس دپاره، په خپل جماعت کښې يو بل طالبعلم پيدا کړه چې د هغوی مدد کوی. اول به دوئ سبق يوځائ کوی، چې د هغوی مدد وکړی چې څوک وئيلے نۀ شی (يا ډير په مزه مزه وائې) چې د تعليم په بنيادی مقصد پوهه شی. بيا به په عبادت کښې (خبرو اترو وخت کښې) يو ځائ کينی او هغه مدد ګار به دوئ دپاره په کتاب کښې صحيح ځائ يا تصوير پيدا کوی. دغه مددګار د کورنئ کس هم کيدے شی اويا څوک بل څوک هم کيدے شی.
- ياد ساتئ چې بې تعلميه کسان په جماعت کښې هم هغه هومره تجربه په ژوند کښې لری څومره چې تعليم يافته کسان لری. او د هغوی مشوره هم هغه هومره قيمتی وی. دا خبره يقينی کړئ چې دوئ ته هم يو هومره موقع ملاؤ شی او په خبرو اترو کښې پوره پوره حصه واخلی چې ټولو طالبعلمانو ته فائده ملاؤ شی.
- او هم، پکار دے چې بې تعليمه کسان پوره پوره حصه واخلی په "زبانی يادولو آيتونو کښې" او په "عملی هدف" کښې، لکه د نورو په شان.

## خ- د پيژندګلو ميټنګ

څنګه به بلکل اول ميټنګ کښې رهنمائې کوی د هغې طريقه کار دا دے چې، اولنے ميټنګ به ډير لنډ وی ځکه چې طالبعلمانو له به پکښې صرف د کورس کتابونه ورکوی او د کورس طريقه به ورته ښائې.

١. کۀ دا نوے ګروپ وی نو خپل تعارف وکړه، او د طالبعلمانو تعارف د يو بل سره وکړه.

٢. ميټنګ دُعا سره شروع کړئ.

٣. د کورس کتاب هر يو طالبعلم له ورکړه.

۴. دا خبره يقينی کړه چې د بې تعليمه کس رابطه د يو داسې کس سره وی چې مدد يې کوی.

۵. د هغوی په کتابونو کښې دې، طالبعلمان د "فهرست" صفحه کولاؤ کړی. يو کس ته ووايه چې د سبقونو نومونه د جماعت په وړاندی ولولی.

٦. **ووايه**: "د دې کورس مطلب دا دے چې مونږ د مسيح د پيروکار په حثيت ترقی وکړو. زۀ او تاسو مونږ ټول په يو ځائ زده کړو. يو ځائ مونږ غواړو چې:

- په خپل ژوند کښې د خدائ مرضی وپيژنو،
- شکرګزارئ سره په هغۀ بهروسه ولرو،
- په هر څۀ کښې هغه اول کړو،
- د هغۀ د روح په مدد سره هغۀ سره نزدی اوسيږو،
- د مسيح د پيروکارو په معاشره کښې خپل کردار ادا کړو.

تاسو هم دا غواړئ؟" [يوځائ پری خبری وکړئ]

۷. **وو ایه**: "د دې مقصد حاصلولو دپاره دا کورس دری طریقی استعمالوی:

- **د کور کار** په یادولو او پوهیدلو کښې زمونږ مدد کوی، او زمونږ د تجربو په حقله خیال کوی،
- **خبری اتری** زمونږ مدد کوی چې خپله رائے نورو ته څرګنده کړو او د هغوی نه څۀ زده کړو،
- **عملی هدف** زمونږ مدد کوی چې په خپل ژوند کښې په دې سبق باندې عمل وکړو.

دا دری واړه ډیر ضروری دی. صرف د کور کار او خبری اتری کافی نۀ دی. بلکه مونږ چې څۀ زده کړو په هغی عملی ژوند کښې هم عمل پکار دے!"

۸. هر یو طالبعلم ته ووایه چې په خپلو کتابونو کښې "د طالبعلمانو دپاره رهنمائ" صفحی ته وګوری. هر یو طالبعلم ته ووایه چې په نمبرنمبر یو یو جمله ووایې. وګوره چې هر یو په دې رهنمایئ باندې ښۀ یوهه شی.

۹. هر یو کس ته ووایه چې اولنے سبق وګوری، "د مسیح مرید جوړیدل." سرنامه (هیډنګ) په اوچت آواز **وو ایه** "زمونږ دَ ژوند مقصد" او ورپسی دوه پیراګرافونه هم ووایه.

د اُستاذ تصویر ته اشاره وکړه او تپوس وکړه: "تاسو دَ وړومبنی سړی سره متفق یئ کۀ دَ دویم سره؟ ستاسو دَ ژوند څۀ مقصد دے؟" [په دې باندې خبری اتری وکړئ].

۱۰. هم دا سبق جاری وساتئ او ۱ سوال یوځائ ولولئ. طالبعلمانو ته وښایه چې څنګه به صحیح جواب ته د ص نشان لګوی. بیا ورته وښایه چې څنګه به د سبق په آخره کښې خپل جوابونه چیک کوی، چرته چې لیکلی دی " د اول سبق جوابونه."

۱۱. **وو ایه**: "اوس دویم سوال په خاموشئ سره پخپله ولولئ، او بیا خپل جواب په خالی ځائ کښې ولیکئ." هغوی له وخت وکړه چې دا وکړی. کوم ټکی چې هغوی ته مشکل وی هغه ورته وښایه. وګوره چې بی تعلیمه هم پوهه شی چې څۀ کیږی.

۱۲. **وو ایه**: "کتاب ستاسو اُستاذ دے. ځکه د سبق په آخر کښې دا تاسو له جوابونه درکوی، چې تاسو ورسره خپل جوابونه چیک کړئ. خو د دې دا مطلب نۀ دے چې تاسو دې د کتاب نه جوابونه ولیکئ! اول خپل جوابونه ولیکی بیا یې چیک کړئ چې ستاسو صحیح دی کۀ نه."

۱۳. **تپوس**: "د اول سبق په آخر کښې، د **۵** سوال دپاره څۀ جواب لیکلے شوے دے؟" [اخپله رائے (ذاتی جواب)] د **۱۳** سوال دپاره څۀ جواب لیکلے شوے دے؟" [اخپله رائے (ذاتی جواب)]

**وو ايه**: "کله چې جواب وايې " خپله رائے (ذاتی جواب)" يا "د خبرواترو دپاره"، نو د هغی صحيح جواب نۀ وی. بلکه د هغی په ځائ به تاسو خپله رائے ليکئ. آيا د دې دا مطلب دے چې تاسو به دا سوالونه خالی پريږدئ او هيڅ به پکښې نۀ ليکئ؟" [نه د دې مطلب دا نۀ دے! هر يو طالبعلم دې خپله رائے وليکی او د خبرو اترو وخت دپاره دې په دې باندی خبرو ته تيار وی].

۱۴. **تپوس**: "هر يو سوال ته خپل ذاتی جواب ليکل ولی ضروری دی، او ولی پکار دې چې دا خالی پری نۀ ږدو؟" [ځکه چې کله مونږ څۀ ليکو نو دا مونږ دې ته جوړوی چې په دې باندې ښۀ غور وکړو. او دا به زمونږ ښۀ ياد وی. او هم مونږ سره څۀ نه څۀ تيار وی چې د خبرو اترو په وخت کښې يې نورو ته ووايو.]

۱۵. **وو ايه**: "د راروان ميټنگ نه مخکښې پخپله اولنے سبق مکمل کړئ. او په آخر کښې سبق ته دوباره کتل هم وکړئ. سبق ته دوباره کتلو کښې سوالونه د هغه سوالونه خلاصه ده کوم چې په سبق کښې دی. نو د دې دپاره مونږ تاسو له د دې جوابونه نۀ دی درکړی. دا ستاسو دپاره دی چې تاسو يې په خپله وګورئ او سبق درته ښۀ ياد شی."

۱۶. د طالبعلمانو نه د کتابونو پيسی واخلئ (کۀ ممکن وی، نو ښۀ به وی چې هغوی د دې پيسی ورکړی اګر کۀ لږی هم وی)

۱۷. د ميټنګ دپاره ځائ او وخت مقرر کړئ. دُعا سره ختم کړئ.

# د طالبعلمانو دپاره رهنمائ



۱

په دې کورس کښې تاسو ته هرکلے وايو! دا به ستايو د روزانه ژوند کښې د مالک عيسیٰ مسيح په پيروئ کښې ستاسو مدد کوی. زۀ ستاسو اُستاذ يم او دا ستايو د رهنمايئ يو څو خبری دی چې د دې کورس نه تاسوفائده واخلئ.

۲

کۀ تاسو دا کورس يواځی وکړئ نو لږه فائده به تری واخلئ. په ځائ د دې تاسو د هری هفتی په کور کښې کار کولو نه پس پکار دے چې د خبرو اترو دپاره ناصح سره ملاؤ شی او ښۀ به وی چې نورو طالبعلمانو سره دا په شريکه وکړی.

۳

او د هر څۀ نه زيات ضروری په دې سبقونو باندې خپل ژوند کښې عمل کول دی! په هر يو سبق کښې د راروانی هفتی دپاره "عملی هدف" وی چې تاسو به يې کوئ.

۱. هر يو سوال په غور سره ولولئ.

۲. صحيح جوابونه وليکه يا ورته د ص نشان [✓] ولګوه چرته چې خالی ځايونه ورکړے شوی دی.

۳. چې تاسو هر يو جواب وليکئ د هغی نه پس د سبق په آخر کښې صحيح جوابونو سره تاسو خپل جواب کتلے شی.

۴. د هر يو سبق مکمل کولو نه پس، سبق ته دوباره کتلو حصه بيا وکړئ چې دا خبره يقينی شی چې تاسو بنيادی سوالونه ياد ساتلے شئ.

۵. څۀ جوابونه ستاسو دپاره دی چې د خبرو اترو وخت دپاره پکښې تاسو خپلی مشوری راؤړئ. د داسې سوالونو ډير خيال ساتئ او د خبرو اترو دپاره تيار اوسئ.

۶. د اولنو پينځو سبقونو دپاره به تاسو ته د يو کتاب ضرورت وی او هغه دے د کورس کتاب. د پينځم سبق نه پس به تاسو د خپل بائبل مقدس هم ضرورت وی.

۷. ياد ساتئ چې ستاسو ناصح ستاسو د مدد دپاره تاسو له خپل وخت درکوی. نو هر ميټنګ ته په وخت باندې راتلو سره، او د کور کار مکملولو سره د هغه کس عزت کوئ.

اوس د مالک په مدد سره شروع کړئ!


# اول سبق: دَ مسیح مرید جوړېدل



## زمونږ دَ ژوند مقصد:

دوؤ سړو دَ خپل ژوندون په حقله خبرې کولې. په هغوی کښې یو ووئیل "زما عقیده ده چې زۀ خدائ پاک د دپاره پیدا کړے یم چې دَ هغۀ حکمونه ومنم. هغۀ پېغمبران رالیږلی وو چې ماته صحیح لاره وښائی. زما دَ ژوند مقصد دا دے چې په هغه لاره لاړ شم. او زما دَ پاره بس هم دا کافی ده."

هغه بل سړی ورته ووئیل "زۀ هم دَ خدائ پاک په حکمونو پوهېدل او په هغی عمل کول غواړم. خو صرف دَ حلال او حرام پېژندل زما دَ زړۀ خواهش نۀ پوره کوی. بلکه دَ دې نه زیات زۀ غواړم چې خپل خالق خدائ پاک په ذاتی طور وپېژنم. زۀ دَ هغۀ آواز اورېدل غواړم او دَ هغۀ مینه حاصلول غواړم. زۀ دَ زړۀ له کومی نه دَ هغۀ په حضوریٔ کښې ژوند تېرول غواړم. دا زما دَ ژوند مقصد دے."




۱. کله چې خدائ پاک انسانان جوړ کړل هغۀ یو خاص مقصد لرلو. هغۀ حضرت آدم او بی‌بی حوا دَ ټولو ځناورو نه مختلف جوړ کړل. ځناور په خوراک څښاک او خوب کولو کښې خوشحاله وو، خو خدائ پاک انسانان دې دَ پاره جوړ کړل چې دَ هغۀ سره مینه وکړی او هغه په ذاتی طور وپېژنې. یو هوښیار مُعلم (سکالر) یو ځل دا دُعا وکړه "اے مالکه! مونږ تا دَ خپل ځان دَ پاره پیدا کړې یو او زمونږ زړونه تر هغې پورې په اطمینان کښې نۀ وی تر کومی پوری چې هغوی خپل سکون په تا کښې پیدا نۀ کړی."

دَ کوم خاص مقصد دَ پاره مونږ خدائ پاک جوړ کړی یو؟ دَ بهترین جواب مخې ته دَ ص (√) نشان ولګوئ.

الف) دَ ځناورو په شان د خوراک څښاک او خوب دپاره ______________________

ب) په ذاتی طور باندې هغه پېژندل او ورسره مینی کولو دَ پاره ______________

۲ خدائ پاک غواړی چې نۀ صرف مونږ دَ یو مالک په شان دَ هغۀ فرمانبرداری وکړو بلکه دَ هغۀ سره دَ خپل نزدی دوست په شان مینه هم وکړو! انجیل شریف مونږ ته ښائ چې دا څنګه ممکنه ده:

"دا تل عمری ژوندون دے چې تا وپیژنی چې ته یواځې رښتینے یې او عیسیٰ مسیح چې تا را استولے دے." (یوحنا **۱۷: ۳**)

خدایٔ پاک څوک راواستولو چې مونږ یې اوپیژنو او تل عمری ژوندون ولرو؟ عیسیٰ ___________

دَ مسیح مرید جوړیدل

۳ مونږ دَ عیسیٰ مسیح په وسیله باندې خدایٔ پاک په ذاتی طور باندې پیژندے شو. کله چې عیسیٰ مسیح دې دنیا ته راغلو نو یو سړے چې ماهی ګیر وو نوم یې شمعُون وو دَ عیسیٰ مسیح منونکے جوړ شو. راځئ چې په انجیل شریف کښې دَ دې په حقله وګورو:

| |
|---|
| یوه ورځ چې عیسیٰ دَ ګنیسریت سیندَ په غاړه ولاړ وُو او خلق پری راپنډ شوی وُو چې دَ دهٔ کلام واؤری، نو هغهٔ دوه کِشتیٔ دَ اوبو په غاړه ولیدلی چې ماهی ګیران تری غاړی ته راکُوز شوی وُو او خپل جالُونه یې وینځل. هغه یوے کِشتیٔ ته وروختو کُومه چې دَ شمعُون وه او هغهٔ ته یې ووئیل چې"دَ غاړی نه لږه وړایسته کړه." بیا هغهٔ په کِشتیٔ کښې په ناسته باندی خلقو ته وعظ شروع کړو. |
| هر کله چې هغهٔ خبری بس کړی نو شمعُون ته یې ووئیل چې"ژورو اوبو ته لاړ شه او دَ ښکار دَ پاره خپل جالُونه واچوه. |
| شمعُون ورته جواب ورکړو، "اُستاذه! مُونږ ټوله شپه خواری وکړه خو هیڅ مو ونهٔ نیول خو چې تهٔ داسې وائی نو زَهٔ به جالُونه ور واچوم." هغوئ داسې وکړل او ډیر ماهیان یې راونیول او دَ هغوئ جالُونه په شلیدو شول. نو هغوئ دَ بلی کِشتیٔ ملګرو ته چغی کړی چې"راشئ او زمُونږ مدد وکړئ!" هغوئ داسې وکړل او دواړه کشتیٔ یې داسې ډکی کړی چې ډوبیدو له راغلی. هر کله چې شمعُون دا نظاره ولیده نو دَ عیسیٰ په پښو پریوتو او ویې وئیل چې"اَئے مالِکه! له ما نه لاړ شه ځکه چې زَهٔ ګُناه ګار سړے یم!" هغه او دَ هغهٔ ټول ملګری دَ کبانو په لیدَو سخت حیران شوی وُو، او دغه شان دَ زبدی زامن یعقُوب او یوحنا چې د شمعُون ملګری هم وُو. عیسیٰ شمعُون ته ووئیل چې"مه ویریږه، دَ دې نه پس به تهٔ دَ بنی آدمو لټُون کوی." |
| هر کله چې هغوئ کِشتیٔ غاړی ته راوسته نو هر څهٔ یې پریښودل او په هغهٔ پسی روان شول. |
| (لوقا **۵**: ۱-۱۱) |

دَ حوالې لوستلو نه پس په دې خانه کښې [ ] دَ ص ( √ ) نشان ولګوه او مخکښې تګ جاری وساته.

۴ داسې ښکاری چې شمعُون څلور قدمونه اوچت کړل چې دَ عیسیٰ مسیح منونکے جوړ شی. او نن هم دې څلورو قدمونو اوچتولو سره خلق دَ مسیح مریدان جوړیدے شی. راځئ چې اوس دَ هغه څلورو قدمونو په حقله زده کړو.

## اول قدم: دَ ګناه نه اوړیدل

کله چې شمعُون دَ کبانو دا معجزه وکتله نو دَ هغهٔ سترګې کولاؤ شوې. هغه دَ مسیح په پاک قوت باندې او په خپلو کمزوریانو باندې پوهه شو. هغهٔ عیسیٰ مسیح ته څهٔ ووئیل؟ "اے مالکه! له ما نه لاړ شه ځکه چې زهٔ ________________________" (بره حواله کښې آخرې پیراګراف ته وګوره)

۵ شمعُون پوهه شو چې هغه یو "ګناهګار" سړے وو. شاید چې هغهٔ هیڅکله ګناه نهٔ وه کړې او نهٔ یې دَ چا قتل کړے وو. خو عیسیٰ مسیح د هغهٔ د زړهٔ د حال نه خبر وو. شمعُون خپل شرمناک رازونه دَ عیسیٰ مسیح نه نهٔ شُو پټولے او نهٔ یې خپل خراب خیالونه پټولے شُو.

ستاسو څهٔ خیال دے؟ ستاسو شرمناک رازونه څهٔ دی، دَ کومو په کولاویدو سره به چې تاسو دَ شرم نه مړهٔ شئ کهٔ چرې ستاسو دَ جماعت په لاؤډسپیکر باندې دَ هغې اعلان وشي؟ کیدے شي چې تاسو دا رازونه دَ خپلو ګاونډیانو، کورنیانو یا دَ خپلو خپلوانو نه پټ ساتلے شئ خو دَ عیسیٰ مسیح نه یې نهٔ شئ پټولے. هغه ستاسو په ژوند کښې هره هغه بدې بالکل واضح لیدے شي لکه څنګه چې ډاکټر په غوښه کښې پټ هډوکي لیدے شي.

- *لږ سوچ وکړئ، او پریږدئ چې عیسیٰ مسیح ستاسو په ژوند کښې بدئ تاسو ته څرګندې کړي.*

۶ هر چا ګناه کړې ده لکه څنګه چې عمر قیوم شاعر وئیلي دي،

"ووایه ما ته چې په دې دنیا چا نهٔ ده ګناه کړې
ووایه ما ته چې چرته دي هغوی چې چا نهٔ ده ګناه کړې
ما تهٔ یې غلط کړے تا زهٔ یم غلط کړے
نو ووایه چې فرق څهٔ دے په تا کښې او په ما کښې"

آیا دَ خدائ پاک نه څوک خپله ګناه پټولے شي؟ [او / نه] (صحیح جواب نه کرښه تاؤ کړه)

۷ تاسو ته ښودلے شوې وو چې خدائ پاک دَ هغوی سره مینه کوي څوک چې پاک وي او دَ هغوی نه نفرت کوي څوک چې ګناه کوي. نو عیسیٰ مسیح خو پاک وو ولې هغهٔ دَ ګناهګار شمعُون نه انکار وکړو څهٔ؟ نه بالکل نه! عیسیٰ مسیح شمعُون له څهٔ جواب ورکړو؟ (دریم نمبر سوال کښې حوالې ته وګوره او صحیح جواب ته دَ ص نشان ولګوه.)

الف) "زما نه لاړ شه ولې چې تهٔ یو ګناهګار سړے یې" ________

ب) "مهٔ یریږه، دَ دې نه پس به تهٔ دَ بنی آدمو لټون کوې" ________

۸ شمعُون څومره خوشحاله وو چې عیسیٰ مسیح ورته ووئیل "یریږه مه"! کهٔ تاسو کله دَ شمعُون په شان پوهه شئ چې تاسو دَ یو ناپاک ګناهګار په شان یئ، نو بیا ستاسو دَ پاره هم امید شته. عیسیٰ مسیح تیار دے چې تاسو معاف کړي او ستاسو نا پاکي لرې کړي!


دې دوو مختلفو کسانو ته وګورئ:







دَ کوم قِسم سړی عیسیٰ مسیح مدد کولے شی! دَ عمران په شان دَ مغروره سړی یا کۀ دَ شفیق په شان عاجز وی؟ ____________________



2. 1.

۹ عیسیٰ مسیح ووئیل "زۀ دَ ریښتینو خلقو دَ پاره نۀ یم راغلے بلکه دَ ګناهګارو دَ پاره چې توبه وکړی" (لوقا **۵ : ۳۲**) دَ توبه ګارئ مطلب دا دے چې دَ ګناه دَ لارو نه واپس شی. دې دوؤ سړو ته وګورئ:

الف) په دې دوؤ سړو کښې کوم یو توبه کړی ده، اول کۀ دویم؟ ___________

ب) په دې دوؤ سړو کښې کوم یو تر اوسه په خپلو زړو لارو روان دے، اول کۀ دویم؟ _____________

۱۰ په خپلو ګناهونو باندې پښیمانه کیدلو نه توبه کول زیات ضروری دی. دَ دې مطلب دا دے چې په مکمله توګه دَ <u>ګناه نه اوړیدل</u>، لکه په تصویر کښې دَ دویم سړی په شان. نو دَ اصل توبې ثبوت څۀ دے. (یو ته دَ ص نشان ولګوئ)

الف) په خپل ګناهګار ژوند باندې نۀ پښیمانه کیدل __________________

ب) په خپلو ګناهونو باندې پښیمانه کیدل خو دَ ژوند طور طریقې نۀ بدلول ___________________

ج) دَ ګناه داغدار ژوند پرېښودل او دَ ژوند طور طریقې بدلول ____________________

۱۱ شمعُون اول کوم یو قدم اوچت کړو چې دَ عیسیٰ مسیح مرید شی؟ دَ ګناه نه _____________

### دویم قدم: د مرید جوړیدلو اهمیت پیژندل

۱۲ دَ شمعُون پطروس دَ پاره مخکښنے قدم دَ عیسیٰ مسیح دَ مرید جوړیدلو قیمت پیژندل وو. شمعُون له یوه ګرانه فیصله کول وو. هغه شاید چې په دوؤ سوچونو کښې ګیر وو.




شمعُون څۀ وپیژندل؟ دَ عیسیٰ مسیح دَ مرید جوړیدلو _______________ پیژندل.

۱۳ عیسیٰ مسیح دا مثال دَ دې په حقله بیان کړو چې دَ هغۀ دَ مرید جوړیدلو اهمیت څومره کیدے شی.

> دَ آسمان دَ بادشاهۍ دا یو بل مثال دے چې یو سوداګر دَ ښو مرغلرو په تلاش کښې وُو. هغۀ یوه ډیره غوره مرغلره ومُونده اؤ دَ هغې دَ حاصلولو دَ پاره یې خپل هر څۀ خرڅ کړل اؤ هغه یې واخسته.
>
> (متی **۱۳: ۴۵-۴۶**)

دَ عیسیٰ مسیح دَ مرید په حیثیت هغه کوم ډیر مشکل څیزونه یا کارونه دی چې تا ته یې پریښودل پکار دی؟ یو یا دَ یو نه زیاتو ته دَ ص نشان ولګوه. (ستا خپل جواب)

ا) په معاشره کښې ستاسو عزت _________________

ب) ستاسو نوکری یا کاروبار __________________

ج) ستاسو کور یا کورنۍ ______________________

د) ستاسو جائیداد یا میراث ___________________

ه) نور (دلته ولیکۍ) ____________________________________________________________

۱۴ خو دَ ټولو نه ښۀ مرغلره قیمتی وی! او کله چې مونږ دَ عیسیٰ مسیح په خاطر قربانی وکړو نو یاد ساتئ چې هغۀ په سولئ باندې زمونږ دَ پاره زمونږ نه غټه قربانی ورکړې ده.

| |
|---|
| "خو خدائ خپله مینه مُونږ ته داسې ښکاره کړه، کله چې مُونږ لاګُناه ګار وُو نو مسیح زمُونږ دَ پاره مړ شو." (رومیان **۵**: **۸**) |

نو چا غټه قربانی ورکړې ده: مونږ کۀ مسیح؟ ________________

په نهم او لسم سبق کښې به مونږ نور زده کوؤ چې ولی مونږ له مصیبتونه زغمل دی.

## دریم قدم: خپل ځان مسیح ته سپارل

۱۵ دَ عیسیٰ مسیح مرید جوړیدلو دَ پاره شمعُون پطروس له <u>اول</u> دَ ګناه نه اوړیدل وو او <u>دویم</u> د مرید جوړیدلو اهمیت پیژندل وو. او بیا هغۀ له دریم قدم اوچتول وو: "خپل ځان مسیح ته سپارل" په دریم نمبر سوال کښې دَ عبارت آخری جمله دوباره ولوله. کله چې مسیح ورته آواز وکړو نو شمعُون او دَ هغۀ ملګرو څۀ وکړل؟ (خالی ځایونه ډک کړئ)

"هغوی کشتئ غاړې ته راوستې نو هر څۀ یې ______________ او په هغۀ ________________ شول."

۱۶ شمعُون خپل ځان په مکمل طور سره خپل نوی مالک عیسیٰ مسیح ته وسپارلو.

مونږ په عام ژوندون کښې خپل ځان چا ته څنګه سپارو؟ دا یو څو مثالونه دی:

- ✓ *یو ستړے ماشوم* خپل ځان خپل پلار ته سپاری کله چې هغه دَ پلار غیږ ته ټوپ کوی چې وینیسی.
- ✓ *یو مریض* خپل ځان ډاکټر ته سپاری کله چې هغه دوائی خوری.
- ✓ *یوه سورلئ* خپل ځان دَ بس ډرائیور ته سپاری کله چې هغه په یو خطرناک سفر باندې ځی.

بلکل هم دَ ماشوم، مریض او سورلئ په شان مونږ خپل ځان عیسیٰ مسیح ته سپارو کله چې مونږ خپل ځانونه دَ هغۀ لاسونو ته سپارو. مونږ په هغۀ بهروسه کولے شُو چې زمونږ رهنمائ او حفاظت کوی. مونږ هغه دَ خپل مالک په شان منو.

دَ عیسیٰ مسیح مرید جوړیدلو دَ پاره دریم قدم کوم یو دے؟

۱. دَ ګناه نه اوړیدل

۲. د مرید جوړیدلو اهمیت پیژندل

۳. خپل ځان عیسیٰ مسیح ته _______________

۱۷ شمعُون خپل ځان عیسیٰ مسیح ته سپارلو نه پس هغۀ سره په وړاندینی دریو کلونو کښې سفر وکړو. هغه دَ خپل مالک په غمونو او خوشحالو کښې شریک وو. دا دَ شمعُون دَ پاره دَ خوشحالئ وختونه وو کله چې هغۀ وکتل چې عیسیٰ مسیح بیمارانو له شفا ورکوی او مړی هم ژوندی کوی! هغۀ زده کړل چې خلقو سره مینه کوی لکه څنګه به چې عیسیٰ مسیح خلقو سره مینه کوله. په مزه مزه دَ شمعُون شخصیت دَ خپل مُرشد عیسیٰ مسیح په شان کیدو.

شمعُون څنګه دَ عیسیٰ مسیح مرید جوړ شو؟ (دَ ښۀ جواب مخې ته دَ ص نشان ولګوئ)

الف) خپل ځان سپارلو سره چې عیسیٰ مسیح یې مالک دے ________________
ب) دَ نوی کلیمې په وئیلو سره ______________________

۱۸ ځنګه چې تاسو ته پته ده چې یو زده کونکے خپل استاذ ته ګوری او هغه چې ځۀ کوی هم هغسې کوی. هم داسې شمعُون پطروس دَ عیسیٰ مسیح دَ شاګرد په حیثیت ترقی کړې وه.
مونږ هم دَ عیسیٰ مسیح شاګردان جوړیدے شو کله چې مونږ هغۀ پسې ځو، اګر چې هغه مونږ خپلو جسمانې سترګو سره نۀ شو لیدے. خو مونږ زده کوو ځۀ چې هغه کوې او مونږ دَ هغۀ په شان کیږو. او مونږ ته دَ هغۀ کار کولو کښې خوشحالې ملاویږی.

دَ عیسیٰ مسیح مرید جوړیدلو دَ پاره دریم قدم کوم یو دے؟ خپل ځان مسیح ته _____________



## ځلورم قدم: دَ مسیح په اُمت کښې شامیلدل

۱۹ کله چې شمعُون عیسیٰ مسیح قبول کړو نو هغه یواځې نۀ وو. هغه د مسیح په اُمت کښې شامل شو. دَ حضرت عیسیٰ مریدان دَ یو ټولګی په شکل کښې اوسیدل او یو بل ته به یې دَ خپل ژوندون په حقله خبری کولې. هغوی دَ مختلفو قبیلو او مختلفو معاشرو نه وو. دا آسان کار نۀ وو. کله کله به دوی بحث ومباحثې کولې. خو شمعُون زده کړل چې څوک هم چې دَ مسیح دی په هغوی لازم دی چې د مسیح په اُمت کښې ________ شی.

۲۰ عیسیٰ مسیح شمعُون ته ووئیل چې دَ هغۀ مرید شی. دې سره کوم ځلور قدمونه تړلی وو؟
۱. ____________ نه آوریدل
۲. _____________ پیژندل
۳. خپل ځان عیسیٰ مسیح ته _____________.
۴ . دَ مسیح په اُمت کښې _________.



آخر دَ دې ننني سبق نه تاسو په شخصي طور څۀ مطلب واخستو؟ دا دَ عيسیٰ مسيح سره ستا تعلق باندی منحصره ده:

١ *کيد ے شي تاسو دَ مخکښې نه دَ مسيح منونکی يئ؟* کۀ يئ نو دَ دې کورس باقی حصه به ستاسو مدد کوی چې په مسيح کښې ترقی وکړئ.

٢ *کيد ے شي چې تاسو اوس دَ مسيح مريد جوړيدلو ته تيار يئ؟* کۀ يئ نو خپل استاذ سره خبره وکړئ او هغه به ستاسو په دې قدم اوچتولو کښې مدد وکړی. او دَ هغې نه پس به دَ دې کورس جاری ساتل تاسو له فائده درکړی.

٣ *کيد ے شي چې تاسو دَ دې اهم قدم اوچتولو دَ پاره نور وخت غواړئ؟* ټيک ده خو خپله فيصله دَ هميشه دَ پاره مۀ وروستو کوه. ځکه چې يو ورځ به داسې راشی چې ډير به ناوخته وی. تر څو چې تۀ دَ عيسیٰ مسيح دَ مريد جوړيدلو په حقله فيصله کوی. نو تا ته به دَ دې باقی کورس نه ډيره لږه فائده ميلاو شي.

**د اول سبق عملی هدف**

پہ دې هفته کښې چرته يواځی کينه او د دې سوالونو په حقله باندی ښۀ غور او فکر وکړه. آيا تۀ د مخکښې نه د مسيح منونکے يی؟ يا کۀ اوس تۀ تيار يی چې د هغۀ منونکے شی؟ او يا کۀ تۀ غواړی چې د دې په حقله باندې نور هم فکر وکړی؟

اوس تاسو دوباره وګورئ

## اول سبق ته دوباره کتل

١ دَ کوم خاص مقصد دَ پاره خدائ پاک انسانان پيدا کړی دی؟ په ذاتی طور باندې هغه ___________________او ورسره ____________کول. *(اول سوال ته وګوره)*

٢ دَ عيسیٰ مسيح مريد جوړيدلو دَ پاره دَ څلورو قدمونو نومونه واخله:

١. د __________ نه _____________

٢ ____________________ پيژندل

٣. خپل ځان ____________________

۴. دَ مسيح په اُمت کښې _____________

## دَ اول سبق جوابونه

۱ ب
۲ عیسیٰ مسیح
۳ دَ حوالی لوستل
۴ گناهگار سړے
۵ خپله رائے
۶ نه
۷ ب
۸ دَ عاجز کس
۹ الف) دویم کس ب) اول کس
۱۰ ج
۱۱ اوریدل
۱۲ اهمیت
۱۳ ستاسو خپله رائے
۱۴ مسیح
۱۵ پریښودل... پسی روان
۱۶ سپارل
۱۷ الف
۱۸ سپارل
۱۹ شاملیدل
۲۰ ۱) دَ گناه نه ۲) اهمیت ۳) سپارل ۴) رابطه